# په ایوان صدر کښې
# د بلوچستان په مسئله جوړې شوې
# جرګې ته
# د اورنګزېب کاسي وینا

**ژباړه :: محمدصادق ژړک**

تر ټولو د مخه زۀ ستاسو څخه مننه کوم چې تاسو د بلوچستان په مسئله چې نن تر ډېره زياته حده پورې د خرابۍ په لورې روانه ده، د هغې د حل لپاره مو هڅې پېل کړې دي او د بلوچستان دانشوران او د بېلابېل مکتب فکر دوستان مو دلته ايوان صدر ته رابللي دي.

هسې خو د ايوان صدر دا روايت ګرځېدلے دے چې له دې ځايه د کوچنيو قامونو په خلاف د ظلم او جبر احکامات به وتل او د جمهوري حکومتونو په خلاف به هم له دې ځايه سازشونو وده کوله.

جناب صدر! زۀ دلته د يوې ضروري خبرې نشاندهي کوم چې د دغه ايوان صدر او د وفاقي حکومت په مقابل کښې له لومړۍ ورځې څخه يو متوازي قوت يا يو Invisible [نۀ ښکاره کېدونکې]حکومت وجود لرلو، تاسو دې ته فوځي او سول بېوروکرېسي وئيلے شئ، اسټېبليشمنټ ورته وئيلے شئ، يا د پنجاب بالادسته طبقه.

د دې ملك تاريخ ګواه دے چې کله هم بېلابېلو سياسي قوتونو د ملك او اولس د ګټې په خاطر د متنازعه معاملاتو د سياسي لارې د ايستلو لپاره هڅه کړې نو دغه ټولې داسې حالات رازېږولي دي چې سياسي قوتونه ئې په خپل منځ کښې سره لاس او ګرېوان کړې دي، چې په نتيجه کښې ئې دغې طبقې په ملك فوځي امريت تپلے دے.

جناب صدر! د بلوچستان مسئله نننۍ نۀ ده، دغه د صوبو او وفاق تر منځ د يوې روېې نوم دے، چې له پاکستان جوړېدو سره سم ئې خپل ځان ښکاره کړے دے، تاسو له ما نه په تاريخ ښۀ خبر يئ. د وړو قامونو د مايوسۍ، بداعتمادۍ، او له وفاق سره د شخړې تاريخ ډېر اوږد دے.

په **14** اګست کال **1947** کښې هند تقسيم کېږي او پاکستان منځ ته راځي. په **21** اګست د صوبو وزراء اعلی په دوبم ځل حلف اخلي، او ډاکټرخان صاحب چې د باچا خان ورور او په صوبه پښتونخوا کښې وزير اعلی ؤ په دغو شپو کښې باچا خان و مسټر محمدعلي جناح ته د صوبه پښتونخوا د دورې بلنه ورکوي، لومړے خو بلنه مني بيا دغه سازشي ډله چې هغه ډېره نوينه [نوزائيده] وه د مسټر جناح دوره

ځکه منسوخوي چې په دغه دوره کښې ئې د مسټر جناح د وژلو منصوبه جوړه کړې ده. له دې ځايه لوبه پېل کېږي. د باچا خان او مسټر جناح تر منځ بد اعتمادي رامنځ ته کوي او تر دې لا زيات چې مسټر جناح چې هغه ګورنر جنرل ؤ له لارې په صوبه پښتونخوا کښې د ډاکټر خان صاحب اکثريتي حکومت چې د 50 په اسمبلۍ کښې په 33 غړو وۀ په غېر آئيني او غېر سياسي جمهوري ډول ختموي. له دې ځايه د صوبو د واك او اختيار او د اولس د رايې نۀ منلو لړۍ پېل کېږي. د دغه ناوړه عمل اثرات په بنګاليانو، بلوڅانو او سنديانو باندې هم پربوتل، د خوف او عدم اعتماد فضا رامنځته کېږي، په نتيجه کښې ئې پښتانۀ، بلوڅان، سنديان، بنګاليان، او د پنجاب روشن فکره سياسي مشران د خپل خپل سيمه ايز شناخت په مقابل کښې د وفاق جابرانه اقداماتو په ضد ئې د نېشنل عوامي پارټۍ په نوم يو ملکي ګوند جوړ کړو.

جناب والا ! د باچا خان او خدائي خدمتګارانو دا قصور وۀ چې د تقسيم په وخت د دوي دا غوښتنه وه چې په پاکستان او هندوستان کښې دې د انتخاب حق د ريفرنډم په ځائے اسمبلۍ ته پرېږدي، يا د دغو دواړو ملکونو په منځ کښې د پښتونستان لپاره دې هم بيلټ بکس کېښودل شي. له 1947ء څخه تر کال 1958ء پورې د سياسي قوتونو د خپل منځي شخړو څخه اسټېبليشمنټ ګټه تر لاسه کړه او د جنرل ايوب خان په مشرتابه کښې ئې په ملك فوځي مارشل لاء وتپله. بيا تر 1958ء وروستو ټولو سياسي قوتونو د اوږدې مبارزې په نتيجه کښې ايوب خان دې ته اړ کړو چې اقتدار پرېږدي او جنرل يحيٰی خان د صوبو حق تسليم کړو نو ئې لومړے ون يونټ مات کړو او دوېم کار ئې د 1970ء آزاد انتخابات وکړل.

جناب والا! د 1970ء په انتخاباتو کښې د بنګال اولس و عوامي ليګ او شېخ مجيب الرحمٰن ته په ملك کښې د حکمرانۍ مېنډيټ ورکړو. په سندھ او پنجاب کښې د پي پي پي په صوبه پښتونخوا او بلوچستان کښې اولس د نېشنل عوامي پارټۍ او جمعيت علماء اسلام مفتي محمود ډلې ته د حکمرانۍ حق ورکړو.

جنابِ صدر! ستاسو پاملرنه د دغې ډلې لور ته راګرځوم چې په اسلام آباد کښې د حکومت په مقابل موجوده وې کومې چې پرېکړه وکړه چې اقتدار به له مغربي پاکستان څخه مشرقي پاکستان ته نۀ انتقالوو.

زۀ دلته د يوې واقعې ذکر کوم ماته خپله باچا خان ووئيل چې خان عبدالولي خان، ميرغوث بخش بزنجو او ارباب سکندر خليل ډهاکې ته لاړل او له شېخ مجيب الرحمٰن سره ئې وليدل او د دغې مسئلې د حل کولو د پاره ئې د خبرو اترو لاره غوره وګڼله، نو مجيب الرحمٰن ورته ووئيل چې خان صاحب تۀ د خبرو اترو خبره کوې له مغربي پاکستان څخه ئې دلته فوځيان راوستلي دي او د ډهاکې په هوائي ډګر ئې کښته کوي، دلته زمونږ په ضد د طاقت د استعمالولو پرېکړه شوې ده. بيا چې ولي خان او ملګري ئې بېرته راغلل نو ئې له جنرل يحيٰی خان سره ولېدل نو يحيٰی خان ورته ووئيل چې زۀ خو مجيب الرحمٰن ته اقتدار ورکوم خو ماته څلورو پنجابي جرنېلانو وئيلي دي کۀ مجيب الرحمٰن له شپږو نکتو څخه په يوه هم اتفاق وکړي مونږ بنګاليانو ته اقتدار نۀ ورکوو.

نو جناب صدر یوې خوا ته څلورو پنجابي جرنېلانو د بنګالیانو د صوبائي واك او اختیار غوښتنه ونهٔ منله خو کله چې نوي زره [90000] فوځیان بندیان شول، د دوی د خوشي کولو معامله رامنځته شوه نو نهٔ ئې یواځې د هغه عوامي لیګ حکومت ومانهٔ بلکې د صوبائي واك او اختیار په مقابله کښې ئې آزاد بنګله دېش ومانهٔ.

جناب صدر! بیا وروستو په پاکستان کښې درې ډلیزه اتحاد پي پي پي، نېپ، او جمیعت یو د بل اولسي رایه مني په مرکز پنجاب او سندهـ کښې د پي پي پي حکومتونه جوړېږي. په پښتونخوا او بلوچستان کښې د نېپ او جمعیت ګډ حکومتونه او ګورنرۍ جوړېږي. یو آئین د اکثریت په رایه سره جوړېږي. د اتفاق رایه آئین ځکه نهٔ شو ورته وئیلے ځکه چې د کال 1973ء په آئین نواب خېربخش مري او ډاکټر عبدالحئ بلوڅ لاسلیکونه ونهٔ کړل.

د قامونو او صوبائي واك او اختیار په مسئله دوی څهٔ تحفظات لرل، په مسټر بوټو ئې پنجاب پلوه آئین جوړ کړو، نوي زره فوځیان ئې ورباندې خوشي کړل او په مسټر بوټو دغې سازشي ډلې په بلوچستان کښې د سردار عطاالله اکثریتي حکومت رنګ کړو، ټول پښتانهٔ او بلوڅ سیاسي مشران یې په حېدرآباد جېل کښې بندیان کړل. د دوی خلاف ئې د بغاوت مقدمې درج کړې او د بلوڅو خلاف ئې فوځي عملیات پېل کړل. د دغو فوځي عملیاتو په ضد خصوصاً مري قوم د وسله والې مبارزې له لارې مقاومت وکړو، دلته د ملك په کچه یو سیاسي بحران رامنځته شو، د پي این اې په شکل یو سیاسي غورځنك رامنځته شو.

جناب صدر! دلته خبره بیا د غور وړ ده هغه دا چې په کال 1977ء کښې مسټر بوټو او مولانا مفتي محمود چې د پي این اې د وفد مشر ؤ تر منځ یوه سیاسي سمجوته وشوه او مذاکرات کامیاب شول نو جنرل ضیاءالحق او نورو فوځي جرنېلانو مسټر بوټو ته صفا صفا ووئیل چې ټول نکات مونږ ته د منلو وړ دي خو حېدرآباد سازش کېس به نهٔ ختموو. مسټر بوټو ورته ووئیل چې بیا به مذاکرات ناکام شي نو جرنېلانو ورته ووئیل چې تاسو فکر مه کوئ. جناب تر دې وروستو چې حالات نور وران شو نو په ځائے د دې چې د مسټر بوټو ملګرتیا وکړې د دهٔ حکومت ئې ختم کړو، او له سندهـ څخه تعلق لرونکے لېډر ئې په کوټ لکپت جېل کښې بندي کړو.

اوس نو یوې خوا ته پښتانهٔ او بلوڅ مشران په حېدرآباد جېل کښې بندیان وو نو بلې خوا ته سندهي لېډر چې پنجاب په زیات شمېر کښې اولسي رایې ورکړې وې په کوټ لکپت کښې پس زنداني کړو. تر څو ورځو وروستو ولي خان او د دهٔ ملګري د دار کېدو په ځائے جنرل ضیاءالحق او د هغهٔ ملګرو جرنېلانو چا چې مسټر بوټو ته د حېدرآباد سازش کېس د بېرته نهٔ اخستلو مشوره ورکړه او مذاکرات ئې ورته ناکامه کړل، په خپله ورغلو ولي خان او د هغهٔ ملګرو ته ئې سلام وکړو او هغه ئې په عزت ناکه ډول له بنده خلاص کړل او وروستو ئې د ولي خان په ځائے مسټر بوټو په دار کړو.

جناب صدر! کهٔ تاسو یا اوسنی حکومت په سیاسي توګه خپل ځانونه آزاد ګڼئ نو د بلوچستان د مسئلې

د حل کېدو امکانات شته د بلوچستان جغرافیه تاسو ته زما نه ښه معلومه ده. کوئټه د صوبې زړه دے چې په شمال کښې ئې پښتانۀ آباد دي او په جنوب کښې ئې بلوخ آباد دي. د بلوخو په شورش زده سیمو کښې د مري له سیمي سره سره ئې د بګټي سیمه هم اوس په ضد کښې ده. دلچسپه خبره دا ده چې نواب اکبر بګټي شهید هغه بلوخ مشر ؤ چا چې په خپلو لاسونو د صوبائي واك او اختيار دستاويزات تيار کړل او وفاق ته ئې پېغام ورواستاوۀ چې زۀ په وفاق پاکستان کښې اوسېږم خو جنرل مشرف په ځواب کښې په عسکري قوت شهيد کړو. په نتيجه کښې ئې له نواب خېربخش مري پرته برهمداغ بګټي د جمهوري وطن ګوند په مقابل کښې د بلوخ رپبلکن ګوند جوړ کړو او د بلوخ د آزادئ سياست ته ئې مخه کړه. دغه ډول د نواب بګټي شهيد د صوبائي واك او اختيار يوه مضبوطه ډله د نواب خېربخش مري په سياسي پلۀ روانه شوه.

جناب صدر! په پايې کښې د بلوخو د مسئلې په باب به دا ووايم چې په خپله نواب خېربخش مري په ډېرو ساده ټکو کښې بيان کړې ده چې نواب خېربخش مری ئې د جسټس نواز مري د قتل په کېس کښې سېشن کورټ ته د سماعت دپاره راوستے ؤ نو په دغه ورځ سردار عطاالله مېنګل او رسول بخش پلېجو هم موجود وو، زۀ هم د يوۀ وکيل په صفت هلته موجود وم، نواب صاحب مخ ته ناست د يوۀ سړي خوا ته اشاره وکړه او وې وئيل چې دا هم بلوخ دی او زۀ هم بلوخ يم دی وائي چې مونږ ته دي په سندهـ کښې دوه سوه نوکرياني راکړي، دی وفادار دے زۀ وايم چې دغه سندهـ زما دے دا د بلوخ دے د دغه اختيار زما دے زۀ غدار يم بيا ئې وخندل.

نو صدر صاحب! کۀ تاسو بلوخانو ته د دوی په قدرتي وسائلو خپل واك او اختيار ورکوئ يا ئې ورکولے شئ کوم چې دوی د خپل اولس په ښۀ کولو کښې په کار راوړي نو زۀ په يقين سره وئيلے شم چې هغه ورځ لرې نۀ ده چې نواب خېر بخش مری دي مذاکراتو ته تيار نۀ شي او بېرته دي د نېپ په ډول په سياست کښې رانۀ شي او کۀ هغه مخصوصه ډله کومې چې باچا خان او مسټر جناح او عبدالولي خان او مسټر بوټو تر منځ غلط فهمياني پېدا کړې وې ستا په مقابله کښې د کال **1947**ء - **1970**ء - او **1973**ء په خبر په خپلو عزائمو کښې کامیابه شي، نو بيا دغه خبره يقيني ده چې نور لبرل او جمهوري بلوخان به د برهمداغ بګټي په خبر د مزاحمت په لاره تګ ته اړ شي.

نو لهٰذا زۀ تجويز درکوم چې تاسو په نواب خېر بخش مري او نورو بلوخانو مشرانو سره چې د هغوی له پارليماني سياست څخه زړونه تور شوي دي، براه راست مذاکرات وکړئ او د اسفنديارولي خان په خبر ئې په اعتماد کښې واخلئ

ستاسو او د نورو ملګرو شکر ګزار يم وسلام

اورنګ زېب کاسي